مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالعلي رسول زاده
۲۰۱۹/۰۲/۲۱

# بسم الله الرحمن الرحيم

# مورنۍ ژبه

ژبه لومړنۍ اله ده چي له لاري ئي انسان فکر کوي ، د نورو انسانانو سره خبري په کوي او يو څه په زده کوي . د ژبي مختلفي افادي هغه الات دي کوم چي د هغو له لاري انسانان په يو څه پوهيږي او د يوې ديموکراتيکي ټولني د يوه غړي په توګه په فعال ډول ژوند کوي په کومه ټولنه کي چي مختلف نسلونه ، ژبي او نور سره يو ځای کيږي . هغه لومړنۍ ژبه چي له لاري ئي انسان د لومړي ځل لپاره فکر کوي، له نورو انسانانو سره خبري په کوي او يو څه په زده کوي هغه مورنۍ ژبه ده.
د ژبي پوهه کوچنيانو ته د هويت شرايط او د پوهي پر مختيا برابروي . په عين وخت کي کوچنيانو ته په ژوندانه کي د نورو لوړو زدکړو ، د کار په ساحه او ټولنه کي د فعاله برخه اخيستلو د انتخاب ښه امکانات برابروي .
نوي تحقيقات ښيي چي کوچنۍ له هغه وخته د مورنۍ ژبي په زدکړه پيل کوي چي د مور په ګېډه کي وي. تر هغه وروسته چي ماشوم نړۍ ته سترګي خلاصي کي دغه نوی نړۍ ور ته ډېره بيګانه نه ښکاري .
په مورنۍ ژبه خبري کول او هغه زده کول د هر انسان حق دئ . په ۱۹۹۹ کال کي يونسکو د فيبريوري ۲۱ نيټه د مورنيو ژبو د نړۍ والي ورځي په نامه و نومول . تر هغه کال ورسته په زياتو هيوادو کي دغه ورځ په ښه توګه لمانځل کيږي.
اوس نو مور د خپلي ميني په غيږه کي په کراره کراره لنډي لنډي کلمي ور ته يادوي او ماشوم لومړی په هغه کي فکر کوي او بيا کوښښ کوي چي هغه کلمي يوه په بله پسي په خپله تلفظ کړي لمړنۍ کلمي چي ماشوم ته ئي تلفظ اسانه دئ هغه کلمي دي چي په شونډانو تلفظ کيږي لکه : مم ، ماما ، مو ، بابا او نور .
يو څه چي يوازي ئي زموږ پښتني ميندي خپل ماشوم ته ور زده کوي هغه د خپلي ميني يوه خاصه ژبه ده . دغه ژبه بل هيڅ کام خپلو ماشومانو ته نه ور زده کوي . دا خبره ما عبدالعلي رسول زاده د شا و خوا شپېتو ژبو د ښوونکو څخه د کار په ساحه کي پوښتلي ده . نوري ژبي دغه د کوچنيوالي ژبه يا نه کاروي او يا که ئي کاروي يو دوی دري کلمي به وي . مګر د پښتنو دغه د کوچنيوالي ژبه يو زيات شمير کلمي لري. يو څو ئي لکه:

| | |
|---|---|
| پينه | پاپی |
| لاس | چکو |
| ډوډی | نانا |
| سترګه | چګه |
| اوبه | ابو |

دغه کلمي د يوې منطقي او بلي منطقي تر منځ توپير لري ، خو کولای سو چي دومره و وايو چي په ټولو پښتني منطقو کي يو دود ګرځېدلی دئ .
دلته خبره دا ده چي دغه د کوچنيوالي ژبه چي کله ماشوم په خپل پلرني هيواد کي ژوند کوي په کراره د لويانو په ژبه اړوي . دا په دې معنا چي د نانا پر ځای ډوډی ، د چګي پر ځای سترګي، د ابو پر ځای اوبه ، د پاپی پر ځای پينه، د چکو پر ځای لاس، د ممی پر ځای وريجي ...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

زده کوي . ماشوم په هیواد کي د مور دغه د میني او محبت ژبه د لویانو په ژبه اړوي . دلته بیا د مور او پلار توجه او رول ډېر مهم دئ . هغه مور او پلار چي د ماشوم دغه ستونزي ته پاملرنه لري، هغوی په دې لار کي مرسته ور سره کوي، خو په هغو کورنیو کي چي مور او پلار سواد نه لري امکان شته چي د ماشوم سره دغه د کوچنیوالي د ژبي یو شمېر کلمې تر ډېره وخته پاته سي .
دا امکان سته چي دغه د کوچنیوالي د کلمو تلفظول په لویوالي کي د نوموړي د توهین او تحقیر لامل وګرځي سړی نه پوهیږي چي پښتني میندي ولي له لومړي سره له خپلو ماشومانو سره په دغه ژبه خبري پیلوي . شاید یو دلیل ئې همدا وي چي میندي به دا فکر کوي چي ماشوم ته په لومړي پیل کي د ژبي د اصلي کلمو تلفظ او زدکړه اسانه نه وي . خو نوي تحقیقات دا ښکاره کوي چي یو ماشوم په ډېر کوچنیوالي د ورځي یو زیات شمېر کلمې زده کولای سي.
خبره دا ده چي په هیواد کي دننه د کورنیو د ژبو تر منځ توپیرونه لیدل کیږي. ځیني کورنۍ په ښارونو کي د مدنیت ټولو امکاناتو ته لاس رسی لري او نوري کورنۍ بیا د ښارو څخه لیري ژوند کوي او د مدنیت هیڅ ډول امکاناتو ته لاس رسی نه لري.
هغه کورنۍ چي په ښارونو کي ژوند کوي بچیان ئې یوه پر مختللې ژبه لري. د کلمو ذخیره ئې ډېره لوړه او ګرامر ئې پر مختللی وي . هغوی چي له ښارونو څخه لیري په کلیو کي ژوند کوي، ژبه ئې ډېره ساده وي، د کلمو ذخیره ئې کښته او ګرامر ئې کمزوری وي .
معلومه خبره ده د ښارو او کلیو د کوچنیانو د ژبو او خبرو تر منځ به هم ډېر توپیرونه وي . څه باید و سي چي په کلیو او ښارو کي یوه متوازنه ژبه منځته را سي ؟ دغه توپیر ته شاعر داسي اشاره کوي :

غتـان غتـان لـویـا لویان پیدا دي
دوی خـو لـه موره جنتیان پیدا دي

را ځـئ چي هغو تــه جنت و ګټو
کوم چي له موره دوږخیان پیدا دي

دلته د هیواد د پوهني د وزارت دنده ده چي له ښارونو لیرو منطقو ته یوه متوازنه ښوونه او روزنه و رسوي . دا سي ښوونکي و روزي چي هغوی په رشتیا سره د کلیو زدکوونکو ته لومړی یوه پر مختللې ژبه او بیا له هغې لاري نوره پوهنه و رسوي .
یوه خبره چي دلته د ویلو وړ ده هغه دا چي : هغه کوچنیان چي په خبرو کي ئې د کلمو ذخیره لږ وي یعني په ډېره ساده ژبه خبري کوي او د ژبي د ګرامر کمی لري زیاتره وختونه هغه څه چي په زړه کي ئې وي سم نه سي ښکاره کولای . په دغسي حالت کي دغه کوچنیان یا په خشونت لاس پوري کوي او یا انزوا ( له خلکو څخه لیري والی ) غوره کوي او یا ډېري ناوړه کلمې ( ښکنځل ) له خولې را باسي . دا کار به تر لویوالي ور سره ملګری وي . د دغه کار د مخنیوي لپاره د ښوونځي دنده ده چي له دغسي کوچنیانو سره مرسته و کي . مسئول مقامات داسي ښوونکي و روزي چي هغوی یوه پر مختللې ژبه و لري او کوچنیانو ته د هغې پر مخ تللي ژبي د کلمو ذخیره او ګرامر ور زده کړي . کوم ښوونکي چي د ښووني او روزني په اساساتو نه پوهیږي د تدریس په وخت کي تر دوو خبرو وروسته د زدکوونکي په وهلو او ترټلو پیل کوي .

## د کوچنیوالي ژبه په غربت کي:

د مور دغه د ډېري میني د کوچنیانو ژبه چي ماشوم څه لوییږي هغه د کوچنیانو د ژبي کلمې کرار کرار د لویانو سره د تماس په نتیجه کي په اصلي کلمو بدلوي . خو په غربت کي کله چي کوچنی دغه اړونه پیلوي په دغه وخت کي وړکتون ته شاملیږي، د مور، پلار او دوستانو سره ئې تماس کمیږي او د کوربه هیواد د ژبي په زدکړه بوخت کیږي . د کوچني تماس د خپلي ژبي او لویانو سره لږیږي. ځکه نو کوچنی دغه د کوچنیوالي د ژبي د کلمو اړولو ته د لویانو د ژبي کلمو ته وخت نه سي موندلای او دغه د کوچنیانو ژبه تر لویوالي ور سره پاتیږي . نو که ګران والدین توجه ورته و کړي دغه اړونه به ممکنه وي . ځیني کورنۍ په دې نظر دي چي د کوربه هیواد د ژبي د زدکړي په وخت کي به د مورنۍ ژبي زدکړه پر کوچني درنه تمامه سي . حال دا چي د مورنۍ ژبي زدکړه به د یوې نوي ژبي له زدکړي سره ډېره مرسته و کي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په غربت کي د کوچنيوالي د ژبي اړول د لويانو په ژبه لږ څه ستونزمن ښکاري. د دې لپاره چي دغه ستونزه را منځته نه سي ښه به دا وي چي په غربت کي ماشومانو ته دغه د کوچنيوالي په ژبه هيڅ خبري و نه سي بلکي له لومړي سره هغه د لويوالي په ژبه خبري ور سره و سي.

## مورنۍ ژبه او غربت:

په غربت کي مورنۍ ژبه ډېره مهمه ده، دا ځکه چي له يوې خوا مورنۍ ژبه د ماشوم هويت نه يوازي ښکاره کوي بلکي هغه ته پر مختګ هم ور کوي. او له بلي خوا يوه پر مخ تللې مورنۍ ژبه د ماشوم سره د کوربه هيواد د ژبي په زدکړه کي زياته مرسته کوي. د دې خبري يوه ښکاره تجربه چي زه لرم هغه زما د پښتو ژبي لنډ ګرامر وو، چي ډېر پخوا مي په پښتو ژبه ليکلی او په www.pashto.se کي مي ايښی وو. کله چي له هيواده بهر ځوانانو لوستی وو، ځينو بيا غوښتنه و کړه چي که زه دغه د ګرامر نومونه په انګليسي ور ته و ليکم. دغه کار مي هم و کړ. د دغي وړې ليکني له لاري به چا فرانسوي زده کړې وه او چا جرمني او... دلته ښکاره سوه چي يوه پر مخ تللې مورنۍ ژبه د يوې بلي ژبي له زدکړي سره ډېره مرسته کوي.

پوهان په دې عقيده دي چي د کوم کوچني که مورنۍ ژبه نه وي زده نو د يوې بلي ژبي زدکړه به ور ته سخته وي. له بده مرغه په غربت کي ډېري کورنۍ د خپلو ماشومانو سره د کوربه هيواد په ژبه خبري کوي. هغوی داسي فکر کوي چي دغه کار به د دواړو هم د کورنۍ د لويانو او هم د ماشومانو سره د کوربه هيواد د ژبي په زدکړه کي مرسته و کي. حال دا چي دغه کار به د کورنۍ د ماشومانو دواړي ژبي هم مورنۍ او هم د کوربه هيواد ژبه ور فلج کړي چي موږ ئې ډيري نمونې ليدلي دي.

غواړم چي خپل د سترګو ليدلی يو مثال ئې دلته را وړم: ډېر کلونه پخوا مي تر سويډن بهر د هيوادوالو په يوه کورنۍ کي کوچنيان و ليدل چي يو توری پښتو ئې نه وه زده. مور او پلار ئې دواړه بېسواده ول. ما پوښتنه ور څخه و کړه چي دا ولي داسي ده. دوی په جواب کي را ته و ويل چي تر دوی مخکي چي هيوادوال را غلي ول هغو ور ته ويلي ول چي د کوچنيانو سره مو د کوربه هيواد په ژبه خبري کوئ، تاسي به ژر هغه ژبه زده کړی.

ما ور څخه پوښتنه و کړه چي ښوونکي ستاسي د کوچنيانو د ژبي په اړه څه وايي؟ جواب ئې دا وو چي ښوونکو د دوی د کوچنيانو د ژبي د ور زده کولو سره ستونزه لرله. ما ئې د دې ستونزي دليل ور ته روښان کړ او ور ته و مي ويل چي لوی دليل ئې دا دئ چي دوی په مورنۍ ژبه نه پوهيږي. هغه کورنۍ هم د دغي ستونزي د ليري کولو لپاره د درو څلورو مياشتو لپاره هيواد ته سفر و کړ څو کوچنيانو ئې هلته د دوستانو سره په تماس کي څه خبري زده کړې.

په غربت کي د مورنۍ ژبي د زده کړي څخه غرض دا دئ چي کوچنی خپلي مورنۍ ژبي ته نور هم پر مختګ ور کړي، د مورنۍ ژبي جوړښت (ګرامري قاعدې) زده کړي، په مورنۍ ژبه لوست او ليک و کولای سي، د دغي نوي ټولني ژبه زده کړي او د يوه مفيد او ګټور انسان په توګه را منځ ته سي.

ما عبدالعلي رسول زاده چي د ۱۹۸۳ کال را هيسي د سويډن هيواد په ښوونځيو کي په رسمي توګه د مورنيو ژبو پښتو او دري تدريس کړی دئ دې ټکي ته متوجه سوی يم چي يوه پر مختللې مورنۍ ژبه څرنګه د کوربه هيواد د ژبي په زدکړي مرسته کوي.

په غربت کي د مورنۍ ژبي د تدريس له لاري بايد کوچنی د پلارني هيواد او کوربه هيواد له کلتورونو څخه خبر سي. د مورنۍ ژبي د تدريس له لاري بايد کوچنی و کولای سي چي د پلارني او کوربه هيواد کلتورونه سره مقايسه کړای سي څو د دې لاري د دواړو کلتورونو تر منځ په ښکاره توپيرونو و پوهيږي.

دلته به په غربت کي د مورنۍ ژبي د زدکړي د موثريت يو مثال راوړم. څو کاله مخکي يوه جاپاني ليکوال په ادبياتو کي د نوبل جايزه تر لاسه کړه. د دغه ليکوال ليکني يوې جاپانۍ نجلۍ سويډني ژبي ته ژباړلي وې. د نجلۍ څخه يوه ژورناليست پوښتنه و کړه چي" ته خو دلته وړه لويه سوې يې تا څرنګه دومره جاپاني ژبه زده کړه"؟ هغې په جواب کي ور ته و ويل" جاپاني ژبه مي دلته په سويډن کي د مورنۍ ژبي د تدريس له لاري زده کړې ده".

د غربت په ژوند کي د ژبي او کلتور د زده کړي او انکشاف لپاره د پلارني هيواد سره تماس او تګ راتګ ډېر ګټور وي ځکه دا کار د کوچنيانو د مورنۍ ژبي او کلتور د ژوري پر مختيا لپاره



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

يوه ښکاره محرکه ده . له بده مرغه چي په افغانستان کي د امنيت د نه شتون له امله دا کار زموږ کوچنيانو ته چندان ممکن نه دئ .

## د مورنئ ژبي پښتو د تدريس تاريخچه په بهرنيو هيوادو کي:

مخکي له دې چي په اروپا او نوره نړۍ کي د مورنئ ژبي پښتو پر تاريخچه و رڼغيرو ښه به دا وي چي په اروپا کي د ميلمنو کارکوونکو کوچنيانو ته د مورنئ ژبي زدکړي را و څيړو .
تر دوهمي نړئ والي جګړي وروسته لومړئ هيواد جرمني وو چي زياتي ورانئ ئي ليدلي وې او زياتو ودانېدو ته ئي اړتيا لرله . دغه هيواد له ترکيي او يو شمېر نورو هيوادو څخه ميلمانه کارګران را و غوښتل . دوئ غوښتل چي له يوې خوا د هيواد د ودانولو چاري تر سره کړي او له بلي خوا د صنعتي پرمختيا لپاره چي د ١٩٦٠ ميلادي لسيزي په پای او د ١٩٧٠ ميلادي لسيزي په پيل کي په اروپا کي را پيل سوې وه له دغو کارګرانو څخه کار واخلي . نه يوازي جرمني بلکي ډيرو لوېديځو هيوادو د نورو هيوادو څخه ميلمانه کارګران را و غوښتل . د دې لپاره چي د ميلمه کارګرانو کوچنيان د خپلي ژبي ، دود ، اخلاق او عادتونو څخه بې خبره پاته نه سي نو يې د دوی اولادو ته د مورنئ ژبي د تدريس له لاري د يوې خوا ژبه او له بلي خوا د دوی د کلتور تدريس هم پيل کړ . د هغو هيوادو د جملي څخه يو هم د سويډن هيواد وو .

## په اروپايي هيوادو کي د پښتو ژبي د تدريس لنډه تاريخچه:

په ١٩٧٩ کال کي چي په ګران هيواد افغانستان کي د جګړو لمبو د هيواد په ګوټ ګوټ کي شدت پيدا کړ د هيواد زياتي کورنئ کډوالی ته اړي سوې. دغه کډوالی نه يوازي ګاونډيو هيوادو ته وې بلکي د نړئ زيات شمېر هيوادونه د افغاني کډوالو ټاټوبي و ګرزېدل . ځيني کورنئ اروپا او ځيني نوري امريکا او کاناډا ته کډوالي سوې .
دغه کورنئ د اروپايي هيوادو له جملي څخه زيات شمېر جرمني، هالينډ ته او يو لږ شمېر ئي په سويډن، ډنمارک، ناروې او فينلينډه کي ميشتي سوې . په ټولو دغو هيوادو کي د يو شمېر کورنيو سره د خپلي ژبي او فرهنګ تلوسه وه او يو شمېر بيا د کډوالی د شپو ورځو په ستونزو کي ورک او د ژبي او فرهنګ د فکر ور لاره څخه ورکه وه. کرار کرار افغانانو هم له نويو ټاټوبيو سره ځانونه برابر کړل، ټولني ( اتحاديې ) ئي جوړي کړلې او هلته ئي په غير رسمي توګه په ټولنو کي خپلو ماشومانو ته د دواړو مورنيو ژبو پښتو او دري تدريس ور پيل کړ .
په شمالي اروپا کي د لومړي ځل لپاره يو څو کورنئ په ١٩٨١ کال کي سويډن هيواد ته راغلي . په سويډن کي د ١٩٧٥ کال را هيسي د مورنيو ژبو تدريس د ښوونځيو په تعليمي نصاب کي ځای موندلی وو . سويډني مقاماتو له ١٩٧٥ کال وروسته په ښوونځيو کي د کډوالو او بهرنيانو کوچنيانو لپاره مورنئ ژبه د دوی حق بللی ده او تر نن پوري دوام لري . د ١٩٨٣ کال په پيل کي د لومړي ځل لپاره دوو تنو زدکوونکو ته د مالمو د ښار په يوه ښوونځي کي د ښوونځي د نورو مضامينو مرسته په پښتو ژبه پيل سوه چي ښوونکی ئي زه عبدالعلي رسول زاده وم . ٣٣ کاله مي دغه تديس پر مخ وړی دئ. تر دې وروسته د افغاني کورنيو او ماشومانو شمېر زيات سو څو وروسته نورو ښوونکو ته اړتيا پيدا سوه او اوس د مالمو په ښار کي د افغانستان د دواړو ژبو پښتو او دري په تدريس نژدې ١٨ تنه ښوونکي لګيا دي .
د يادولو ده چي سربېره پر دغه رسمي تدريس په ټولنو کي هم د مقاماتو له خوا د دغه تدريس لپاره مادي مرستي ور سره کيږي .
د ټولو مورنيو ژبو د دغه تدريس تعليمي نصاب، د کورسونو پلان، پروګرام او ټول امتيازات د سويډن د پوهني د وزارت له خوا د نورو مضامينو سره يو شان ور کول کيږي .

## په سويډن کي دغه تدريس دوه ډوله دئ :

١ــ يو ئي يوازي او يوازي د مورنئ ژبي او کلتور تدريس او ښوونه ده . د کورسونو پلان ئي د سويډن هيواد په تعليمي نصاب کي د ښوونځي د نورو مضمونونو په شان د سويډن د ښووني او روزني د وزارت له خوا تعيينيږي . د مورنئ ژبي د مضمون نومري په ځينو حالاتو کي د نورو مضامينو په شان ارزش لري . اړونده چاروا کي د دې تدريس لپاره د هري ژبي ښوونکي مقرروي او د نورو سويډني ښوونکو په شان امتياز ور کوي . تدريس د ښوونځي تر مهال وېش د باندي تر سره کيږي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دا ځکه چي د مورنۍ ژبي د تدريس لپاره بايد زدکوونکی د کوم بل مضمون ساعت له لاسه ور نه کړي . په دغه کار کي سويډن په نړۍ کي لومړی هيواد دئ .
د مورنۍ ژبي تدريس د صفر ټولګی څخه بيا تر دوولسمي ټولګی پوري وي . صفر ټولګی د ښوونځي تر پيل نه مخکي د امادګي ټولګی ده .
په وړکتون کي لا هم ماشومان د مورنۍ ژبي د ټرېنينګ په نامه حق لري او د مورنۍ ژبي ټرېنر په اونۍ کي يو ځل د يو معين وخت لپاره د ماشوم سرهويني . د مورنۍ ژبي تدريس او ټرېنينګ نه يوازي د ماشوم سره د ژبي او کلتور مرسته کوي بلکي د مورنۍ ژبي د ټرېنر او ښوونکي سره د ماشوم ليدنه کتنه د يوه پلوه ماشوم په دغه نوي چاپېريال کي ځان يوازي نه احساسوي او له بله پلوه د خپل ښوونکي سره د تماس له مخي د ځان لپاره د يوه هويت د لرلو احساس کوي .
په سويډن کي د مورنۍ ژبي تدريس په ګروپي توګه تر سره کيږي ، د دې معنی داده چي په هر ګروپ کي به تر پنځو زدکوونکو کم نه وي . که ګروپ ګډو وډ وي يعني دوه زدکوونکي د لومړۍ ټولګی، يو زدکوونکی د څلورمي ټولګی ، درې زدکونکي د شپږمي ټولګی وي پدې صورت کي کوښښ کيږي چي د ګروپ د زدکوونکو شمېر ډېر زيات نه وي .
که چيري په يوه ښوونځي کي په يوه ګروپ کي پنځه زدکوونکي نه پوره کيږي نو دغه زدکوونکي بيا کوم بل نژدې ښوونځي ته ور ځي او د هغه نورو زدکوونکو سره يو ګروپ جوړوي .
په لسمه ټولګی کي زدکوونکي زياتره د ژبي مهارتونه لولي . په يوولسمه ټولګی کي زياتره کلتور او په دوولسمه ټولګی کي يوازي او يوازي د سويډني ژبي څخه پښتو ته او د پښتو څخه سويډني ژبي ته د شفاهي او ليکنيو ژباړو مهارتونه زده کوي، وړې وړې ليکني د يوې ژبي څخه و بلي ژبي ته ژباړي .
۲ ـ بل ډول ئې په مورنۍ ژبه د نورو مضمونو مرسته ده . چي دغه دوهم ډول ئې په لاندي ډول وي :
ځيني وختونه داسي زدکوونکي د خپل هيواد څخه سويډن ته راسي ، چي د سن په لحاظ د اتمي ټولګی سره برابر وي اما په خپل هيواد کي يا هيڅ ښوونځي ته نه وي تللی او يا که تللی هم وي نو سويه به ئې د سويډن د اتمي ټولګی سره نه وي برابره ، په دغه صورت کي نوموړی زدکوونکی د سويډني ژبي د زدکړي په يوه خاصه ټولګی کي شامليږي څو لومړی سويډني ژبه او بيا نور مضمونونه زده کړي . پدغه وخت کي د مورنۍ ژبي ښوونکی هم د زدکوونکي په مورنۍ ژبه او هم په سويډني ژبه د سويډني ژبي او نورو مضمونونو مرسته کوي څو شاګرد د هغه اړونده ټولګی د سويې سره برابر کړي او بيا ئې خپلي اصلي ټولګی ته شامل کړي . پاته دي نه وي چي پدغه ځای کي د مورنۍ ژبي د ښوونکي رول ډېر مهم دئ .
څو جملې مخکي مو د صفر ټولګی نوم واخيست . د صفر ټولګی زدکوونکي شپږ کلن وي . ماشومان چي کله يو کلن سي کورنۍ ئې وړکتون ته لېږي . په وړکتون کي تر پنځه کلنۍ پوري چي څه زده کوي هغه د لوبو او خبرو له لاري زده کوي . دا ځکه چي د ښووني او روزني محققين داسي نظر لري چي ماشومان بايد له ۷ کلنۍ څخه د تدريس له لاري په زدکړو پيل و کړي. دوی داسي نظر لري چي په ۷ کلنی کي ماشوم د تدريس له لاري زدکړي ته اماده کيږي او تر ۷ کلنۍ مخکي لا ماشوم خام وي. کورنۍ بايد پاملرنه و کي چي تر ۷ کلنۍ مخکي پر ماشوم باندي د زدکړي دروند بار وا نه چوي . تجربو ښودلې ده هغه ماشومان چي ۷ کلنۍ ته نه وي رسېدلي زياتره وختونه ښوونځی او زدکړي پر نيمی لاره پرېږدي .
له دې امله صفر ټولګی ځانته ځانګړی تعليمي نصاب او د تدريس مخصوص کورس پلان لري چي په هغه کي ټوله زدکړه د لوبو له لاري وي . د دغه يوه نمونه زموږ په پاڼه www.pashto.se کي د شپږ کلنو د تدريسي موادو تر نامه لاندي و ګورئ .
په سويډن کي د مورنيو ژبو د تدريس تر څنګ د پوهني وزارت په ۲۰۰۰ کال کي د يو شمېر مورنيو ژبو لپاره د انټر نيټ پاڼي هم ترتيب کړې چي د هغو له جملې څخه په ۲۰۰۲ کال کي پښتو او دري دواړو ژبو ته په ګډه يوه پاڼه ور کړه سوه. هغې يوې پاڼي يو ادرس لاره . کله چي به سړي هغه ادرس کليک کړ نو بيا پښتو جلا او دري جلا يوه يوه پاڼه را تله . د پښتو پاڼي مسئوليت ما عبدالعلي رسول زاده ته را و سپارل سو او تخنيکي همکار مي ښاغلی سليم عابد پيمان و ټاکل سو . هغه په ستوکهولم کي اوسېدی او زه په مالمو کي . ما ليکني ور ته کولې او ده په پاڼه کي ځای پر ځای کولې او د پاڼي تخنيکي چاري ئې پر غاړه وې . سربېره پر دې ښاغلي عابد يو شمېر دري او پښتو تدريسي مواد هم ليکلي ول او په دغه پښتو پاڼه کي ئې ځای پر ځای کړي ول .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دا چي له پښتو پاڼي ښخه د ټولي نړۍ ښخه خلکو کار اخيستی او د سويډن د پوهني د وزارت پاڼه په کله کله بنده وه، ځکه مو د پښتو پاڼي لپاره نوی ډومين www.pashto.se غوره کړ او دغه نوم مو د پوهني د وزارت په پاڼه کي لينک کړ .
په ډېر لږ وخت کي دغي يوې پاڼي د ۲۸ نورو پاڼو په منځ کي د ټولو ملاقات کوونکو او کتونکو د جملي ښخه ۹۰ په سلو کي د ځان کړه . په ۲۰۰٤ ميلادي کال کي د سويډن د پوهني د وزارت دغو پاڼو د ايرلنډ د ډبلن په ښار کي د يوې نړۍوالي سيالۍ په ترڅ کي د نړۍ د نورو مشهورو پاڼو ښخه لومړی جايزه تر لاسه کړه . د دغه کار په نتيجه کي د پوهني په وزارت کي د دغو پاڼو د مسول چلوونکي له خوا د مننې په کولو سره پښتو او دري هره يوه ځانته جلا جلا پاڼي و پيژندل سوې.
په پښتو پاڼه کي د ورکتون ښخه تر دوولسم ټولګی پوري د زدکړي مواد لکه ډول ډول الفبې، ډول ډول نقشي، ګرامرونه او کتابونه پراته ول او هر هر کال دغه د زدکړي مواد د ښوونکو د کاري پلان سره سم نوي کېدل.
د پاڼو مسئولو چلوونکو بايد په هر کال کي د خپلي ژبي د ښوونکو لپاره يو کنفرانس ترتيب کړی وای او په هغه کي ئي د ښوونکو سره د مورنۍ ژبي د تدريس پر پر مختګ خبري کړي وای او يو له بله ئي ګډه همکاري کړي وای .
په دغه کنفرانسو کي د نورو هيوادو لکه ډنمارک ، فينليند ... ښخه د مورنۍ ژبي ښوونکو هم کله کله ګډون کاوه .
په ۲۰۱۷ کال کي د سويډن د پوهني وزارت دغه پروژه نوره و تړله او ټولي پاڼي له منځه يوړې . يوازنۍ پاڼه چي پاته ده هغه دغه زموږ د پښتو پاڼه ده چي تر اوسه هيوادوال ګټه تری اخلي . دغه پاڼه اوس زموږ شخصي پاڼه ده، ټول مصارف او امتياز ئي په ما عبدالعلي رسول زاده او سليم عابد پوري اړه لري .
د پاڼو ملاقات کوونکي او کتونکي په افغانستان او ټوله نړۍ کي زموږ او ستاسي هيواد وال دي چي د خپلو بچيانو لپاره ور نه کار اخلي.
په سويډن کي له ډيري مودې راهيسي بني پلوي ګوندونه او ګروپونه مهاجرينو ته د مورنۍ ژبي د تدريس د دغه امتياز د ورکولو مخالف ول . د يو شمېر سياسي کسانو سره هم داسي فکر پيدا سو چي د مورنۍ ژبي تدريس د سويډن هيواد ته غير اقتصادي او بې ګټې دئ . د دې کار لپاره د پوهني وزارت يوه ګروپ ته دنده ور کړه چي پدې برخه کي څېړني و کړي . د هغه ګروپ څېړنو و ښودله ، چي هغو زدکوونکو چي د مورنۍ ژبي په تدريس کي ئي ګډون کړئ وو د ښوونځي د نورو مضامينو نومري حتا تر سويډنيانو زدکوونکو لا هم لوړي وې . ځکه مقاماتو لازمه و نه بلله چي د مورنۍ ژبي تدريس له منځه يوسي بلکي د ۲۰۱۱ کال په نوي تعليمي نصاب کي ئي ډېر لوړ ځای ورکړ .
دلته مي ځکه لومړی د سويډن د مورنۍ ژبي د تدريس په اړه خبري و کړې چي دغه تدريس رسمي بڼه لري . اوس به په يو شمېر نورو هيوادو کي د مورنۍ ژبي پښتو د تدريس په اړه څه لنډ معلومات وړاندي کړم.
د دغه تدريس امتيازات دا دي چي په رسمي توګه دئ او ښوونکو ته ئي د ښوونځي د ښوونکو په ډول مياشتنی معاش ور کوي. ښوونکي کولای سي د ښوونځي د يوې معيني بوديجې ښخه تدريسي کتابونه را نيسي . له بده مرغه هغه تدريسي کتابونه د هغه تعليمي نصاب سره نه وي برابر کوم چي د پوهني د وزارت له خوا ور ته ليکل سوی دئ.

د دغه تدريس په وړاندي ستونزي:

۱ـ د زدکوونکو تيت او پرک ګروپونه،

۲ـ د زدکوونکو زيات شمېر په ګروپ کي،

۳ـ د ميندو او پلرو بې علاقګي او نه همکاري.

## د مورنۍ ژبي پښتو تدريس په جرمني کي:

افغانانو تر ټولو هيوادو لومړی په جرمني کي د مورنۍ ژبي پښتو په تدريس پيل و کړ. دا ځکه چي جرمني لومړی هيواد وو چي تر نورو هيوادو تر مخه په زرو افغانان هلته کډوال سول . د مورنۍ ژبي تدريس په جرمني کي رسمي بڼه نه لرله او په ښوونځيو کي نه تر سره کېدی . دوی دغه تدريس د ټولنو په چوکاټ کي کاوه . البته د کتابونو د چاپ او کاپي کولو امکانات به ئي مقاماتو ور برابرول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

. دوی ډېر تدريسي مواد لرل، تر دې حده چې له نورو هيوادوالو سره ئې هم مرستې کولې . هغو خلکو په هغه وخت کې ډېر ادبي کارونه هم مخته وړل. دا چې د دوی شمېر هلته په جرمني کې ډېر وو سربېره د مورنۍ ژبې پر تدريس ئې مجلې او نور نشرات هم لرل . د دوی دغه فعاليت ورځ تر بلې لږ سو . په اوسني وخت کې د جرمني د هامبورګ په ښار کې يو شمېر خوندي دغه تدريس پر مخ بيايي .

## د مورنۍ ژبې پښتو تدريس په هالينډ کې:

په هالينډ کې د مورنۍ ژبې تدريس د اتحاديو له خوا کېږي . دلته لاندې به د فنډال Veenendaal په ښار کې د پښتو ژبې د تدريس په اړه څه نا څه معلومات را وړو:
د هالينډ هيواد د فيننډال په ښار کې يو شمېر زدکوونکي د مورنۍ ژبو پښتو او دري په لوست بوخت دي او دغه تدريس د احمدشاه بابا د علمي او ادبي ټولني له خوا مخ ته وړل کيږي .
د هالينډ هيواد مقامات د دغه تدريس لپاره يوازې او يوازې د درسي کوټې او درسي موادو په چاپولو کې مرسته کوي . دري تنه ښووونکي په افتخاري توګه تدريس مخ ته وړي او د هيڅ ډول مادي امتياز څخه ګټه نه اخلي .
په اونۍ کې دوه ځله د سه شنبې او جمعې په ورځو کې د مازيګر د پنځو بجو څخه تر اوو بجو پورې زدکوونکي د والدينو له خوا له ډيرو ليرو ځايو څخه د دغه تدريس لپاره راوستل کيږي .
په دغه تدريس کې دواړه پښتو ژبې او دري ژبې زدکوونکي څنګ تر څنګ ګډون کوي او والدين کومه غوښتنه نه لري چې ښوونکي بايد خاص دري ژبې يا پښتو ژبې وي .
د ښوونکو نومونه او پيژندنه په لاندې ډول ده :

## ننګيالی بڅرکی:

د کابل پوهنتون د علومو او ادبياتو د پوهنځي څخه فارغ شوی دئ او بيا يې د ژبو او ادبياتو په څانګه کې ماسټري اخيستې ده او وروسته يې په افغانستان کې د علومو د اکاډمي د نشراتو د رياست د مرستيال په توګه دنده اجرا کړېده . يو شمېر ليکني يې کړي دي . سربېره پر هغو ليکنو د زدکوونکو لپاره تدريسي کتابونه هم ليکي .

## ناهيد جانه سراج زاده:

دوولس کاله په کندهار کې ښوونځي ته تللې ده او بيا يې مسلکي زدکړې د ښوونکو سره د مرستې لپاره کړې دي او وروسته يې د څه مودې لپاره د ښوونکې په توګه دنده تر سره کړې ده .

## پښتنه جانه:

دغه مېرمن هم د لوړو تحصيلاتو لرونکې ده او د څه مودې راهيسې د فيننډال د پښتو او دري ژبو په ښوونځي کې په افتخاري توګه زدکوونکو ته تدريس کوي .

## د مورنۍ ژبې پښتو تدريس په ډنمارک کې:

په ډنمارک کې د مورنۍ ژبې تدريس څو کاله مخکې په ښوونځيو کې په رسمي توګه تر سره کېدی.
په اوس کې دغه تدريس په ښوونځيو کې لږ سوی دئ . افغانان خپلو بچيانو ته دغه تدريس د ټولنو له خوا تر سره کوي . دوی د کوپنهاګن په ښار کې له ۲۰۰۴ کال راهيسې دغه تدريس را پيل کړی دئ او تر اوسه ئې دوام ور کړی دئ . د دوی دغه فعاليت دومره زيات دئ چې حتا دري ژبو ځوانانو ته يې د دغه تدريس له لارې پښتو ژبه ور زده کړې ده، چې هغوی اوس د پښتو ژبې ترجماني کوي . ښوونکي ئې دغه لاندې کسان دي:

## ډاکټر صاحب محمد انور نايبي،

## ډاکټر صاحب محمد اصف،

## انجينير صاحب شوکت.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په ناروي كي د مورنۍ ژبي تدريس نه سته، خو صرف په ښوونځي كي نويو را غلو زدكوونكو ته د يوې مودې لپاره د ښوونځي د نورو مضامينو مرستي په مورنۍ ژبه ور كوي .
د نورو هيوادو په اړه نور معلومات نه لرم . كه چيري وي د ښوونكو څخه ئې مننه كوم .


عبدالعلي رسول زاده په ۱۹۶۹ كال كي د كابل پوهنتون د ښووني او روزني د پوهنځي د رياضي او فزيک له څانګي فارغ سوي دئ. لس كاله ئې د كندهار په عالي دارالمعلمين كي د استاد په توګه دنده تر سره كړې ده. ۳۸ كاله ئې په سويډن كي ژوند كړی دئ او ۳۳ كاله ئې افغان زدكوونكو ته د سويډن په ښوونځيو كي د پښتو او د ښوونځي د نورو مضامينو تدريس كړی دي.

alirasulzada@hotmail.com

موبايل تليفون:
0046709384755




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ